# د بېدل او علي خان په کلام کښې مشترک قدرونه

Dr. Nageena Khanam Nageen*
Dr. Farkhanda Liaqat**

**ABSTRACT:**

*Pashto is an ancient language having a long historical back ground. This language has produced eminent poets like Khushal Khan Khattak and Rahman Baba who have received universal and world wide fame and reputation. No doubt our classical poetry is very rich in form and contents. All of our classical poets have taken inspiration from one and the same source of poetic treasure. This is why there are so many common thoughts, points, similes and poetical beauties in their poetry which one can't imagine. The basic reason of such similarities is quite clear. The source of their inspiration is common. All the poets were scholars of Persian, Islamic literature and the subjects in vogue at their time. There are so many examples of such similarity but its best xample is the poetry of Baidil Hashtnaghari and Ali Khan. Both of the poets belong to the same area of Hashtnaghar and to the same era. i.e. ۱۷۵۰ to ۱۸۵۰. I have tried to point out those verses of them which have common thoughts and which are closely related. I have arranged complete references at the end of the article for authenticity.*

د دوؤ شاعرانو یا ادیبانو تقابلي جائزه اخستل ډېر ګران کار دے او بیا چې د شاعرانو او ادیبانو د اظهار ژبې هم جدا جدا وي. لکه د خوشحال او

* Lecture Pashto Department, University of Peshawar

** Associate Professor Pashto Academy, University of Peshawar

اقبال تقابلي جائزه، د حافظ شيرازي او رحمان بابا تقابلي جائزه يا د کاظم خان شيدا او غالب تقابلي جائزه وغيره.

خو چې د شاعرانو د اظهار ژبه يوه وي نو بيا که خارجي شواهد دستياب نۀ وي نو داخلي شواهدو په مدد لوستونکے يوې قابلِ يقيني نتيجې ته رسيدے شي.

دا وخت چې زۀ د کومو دوؤ شاعرانو په کلام کښې مشترک قدرونه په ګوته کول غواړم. دا دواړه د پښتو کلاسيکي دور شاعران دي، دواړه د نازک خيالو د ډلې شاعران دي. دغه دواړه شاعران د يوې سيمې يعني د اشنغر د سيمې اوسيدونکي دي. دغه دواړه شاعران بيدل او علي خان دي. د دغه دواړو شاعرانو د پيداوښت او مرګ کالونه مونږ ته نۀ دي معلوم. خو د هغوئ د ديوانونو د داخلي حوالو په بنياد به مونږ يوې قابلِ يقين نتيجې ته د رسيدو کوشش کوو. بيدل د خپلو معاصرو شاعرانو په باب کښې وائي:

هر چې دي زما د عصر هغه دا دي
چې هر يو په کښې خوشخويه سخندان دے

صاحبزاده محمدي علي خان ګوره
هم سعيد د ميا اکبر سره عيان دے

مقبول شوي په دا باب کښې دي هر چا ته
چې هر يو په خپل قوت کښې پهلوان دے

محمدي تر حميد زيات وينم کم نۀ دے
هر چې زړونه پرې غوڅېږي علي خان دے

چې ممتاز زما د عصر دي هم دا دي
نور بېشماره دي د واړو ښهٔ سامان دے
څهٔ حاجت دے چې بيان اوکړم د واړو
دوه څلوېښت زما د کلي چې اتمان دے[۱]

د اتمان نه مراد اتمان زي دے چې د اشنغر لوئے کلے دے. علي خان هم د اشنغر ذکر بيا بيا کړے دے او اشنغر خپل وطن ګڼي.

چې يا رنهٔ وينم دلې په هشنغر کښې
پټوم به له وطنه پسې سر مخ[۲]

په يو بل شعر کښې اشنغر د دلبرو د زلفو کان ګڼي.

هشنغر شهٔ کان د زلفو د لبرو
څکه نشته په دا ملک د کان د مُشکو[۳]

بيا بل ځائے شاعر بېدل د جيندي ذکر داسې کوي:

تمام وخت د خوشدلۍ راڅخه ډوب شه
چې ګډ شوے ووم د مينې په جيندي بيا[۴]

اوس به څهٔ له مانه صبر و آرام غواړې
چې مې يوړو مال متاع د عشق جيندي بيا[۵]

دغه شان علي خان هم د جيندي ذکر بيا بيا کړے دے.

نـۀ پـوهېږم زۀ د چـا پـه زړۀ ځکـه غـولاوه شـم
ځښـلي چـې سـاده صـفا اوبـۀ دي د جينـدي[۶]
پـروت يـم پـه دريـاب د تحيـر کښـې چپـو وړے
نـۀ پـوهېږم هـېڅ چـې اباسـين وړم کـه جينـدي[۷]

دا هغه جيندے وو چې خلقو بـه تـرې نـه صفا او پاکيزه اوبۀ وړلې. او شاعرانو د خپل کلام موضوع هم ګرځولے دے.

د بېدل د عهد تعين يـو خـوا د هغـه شـاعرانو د عهـد پـه حوالـه کېـدے شي چې دۀ يې ذکر کړے دے او بل خوا د تيمور شاه د ذکر پـه حوالـه هـم مـونږ ته يو قوي دليل په لاس راکوي. بېدل چې د کومو شاعرانو ذکر کړے دے او چې دے يې خپل معاصرين ګني د هغوئ نومونه دا دي.

کامګار خان خټک، حميد ماشوال، صاحبزاده محمدي، سعيد وغېره. کامګار خان خټک د يوولسمې صدۍ هجرۍ په اخر کښې پېدا شوے ښکاري او پـه کـال ۱۱۲۵ هـ[۸] کښـې وفـات شـوے دے. حميـد ماشـووال تـر ۱۱۵۰ هـ[۹] خواؤشا تېر شوے دے. صاحبزاده محمدي ۱۲۲۰ هـ/ ۱۸۰۲ هـ کښې وفات شوے دے.[۱۰] سعيد هم تر ۱۱۵۰ هـ خواوشا تېر شوے دے. بېدل په خپل ديوان کښې د تيمور شاه ذکر هم کړے دے. څوک چې د لوئے احمد شاه بابا درېم زوئے وو. تيمور شاه په کال ۱۷۴۷ء دسمبر په مياشت کښې پېدا شوے وو.[۱۱] د هغۀ د مرګ په باب کښې اولف کېرو وائي:

"Taimur Shah was taken ill on his way up to Kabul from Peshawar and died in the spring of ۱۷۹۳".[۱۲]

ترجمه: تيمور شاه چې د پېښور نه کابل ته تلو نو پـه لاره کښـې نـاجوړه شو او په کال ۱۷۹۳ء د سپرلي په موسم کښې وفات شو.

يو بل تاريخ دان يې د مرګ تاريخ هم په ګوته کړے دے.

"د ۱۷۹۳ء په سپرلي کښې څۀ وخت تیمور شاه د
پېښور نه کابل ته روان وو. هغه په لاره کښې ناجوړه شو او په
۲۰ مئی ۱۷۹۳ء کښې وفات شو". [۱۳]

د دغه حوالو نه مونږه دا نتیجه اخذ کولے شو چې بېدل تر ۱۷۹۳ء خواوشا پورې ژوندے وو. علي خان په یو شعر کښې د محمود دارالسلام ذکر هم کړے دے.

دا امــــر د مــــرور لاړ لـــه مــــا کـــه دُرّوۀ
کـه دا حـور وو د محمـود دارالسـلام لاړ [۱۴]

د محمود نه که مراد شاه محمود او یا محمود شاه وي نو دا د تیمور شاه دوېم زوئے وو.

د احمد شاه ابدالي نه پس چې په کابل کښې د واکدارانو ډلو تر مېنځه کومه باچاګردي شروع شوه او په تخت د کښېناستو دپاره چې کوم ظلمونه خپل کړے شوي وو خو بهر حال لنډه خبره دا چې د محمود شاه د پېداوښت کاله خو نۀ دے معلوم. البته هغه په کال ۱۸۲۹ء کښې وفات شوے وو. [۱۵]

په دې حساب علي خان د اوږد عمر سړے معلومېږي. دغه شان بېدل هم د خپلې سپینې ږیرې ذکر بیا کړے دے. کوم چې د دې خبرې دلیل دے چې د اویا (۷۰)کالو نه اوړېدلے وو.

سپینې ږیرې خوار و زار تر خاره خس کړم
خپلې مینې خاکستر لکه ققنس کړم [۱۶]

د ستم رستم د غم په مُلک مَلک کړم
مهر و مینې سپینه ږیره کم هلک کړم [۱۷]

په اصل کښې بېدل، علي خان، عبدالحمید بابا او صاحبزاده محمدي ځلور واړه د یوې مکتبۀ فکر خاوندان دي. چې مونږ ورته د نازک خیال شاعرانو ډله وئیلې شو. په دغه ډله کښې کامګار خان خټک او کاظم خان شېدا د نازک خیالو شاعرانو په اول قطار کښې ولاړ دي.

د معزالله مهمند رجحان د رحمان بابا په لور زیات ښکاري.

بېدل او علي خان دواړه د اسلامي تعلیماتو علمبردار ښکاري. دا خبره د هغوئ د کلام نه صفا ښکاره ده. بېدل د خپلې سپېځلې وېنا اظهار داسې کوي:

مخ تورن، خیچن، خیرن یم زما ربه
د عصیان په پَم پمن یم زما ربه

بد فعلي مې درست جهان ته شوه څرګنده
د ګناه په لېچ لېچن یم زما ربه

ما د فضل په صابون سره ښۀ سپین کړه
سیه رنګه خوار خیچن یم زما ربه

بې له تا مې ښۀ په هیچا باندې نۀ شي
که رنځور که روغ په تن یم زما ربه

د حبیب په روي شفا کامله راکړه
د پرهر په دود زولن یم زما ربه[۱۸]

علي خان د خپل دیوان آغاز څۀ داسې کوي:

ابتــــداء کـــوم پـــه اســـم د مـــولا
چې په حکم کښې يې دي ارض و سماء

اُمتيـــان د محمـــدﷺ طٰـــهٰ لقـــب يـــو
پـــه قيامـــت بـــه يـــو پـــه نـــورو شـــهداء
امانـــت مـــې ايمـــان اے خدايـــه رحيمـــه
مســـتقيم لـــرې چـــې ليـــږدم لـــه دنيـــا

اهـــلِ علمـــو تـــه سلام د علـــي خـــان دے
خصوصـــاً بيـــا مـــن يتبـــعِ الهـــدای [۱۹]

بېدل په يو اوږد نعت کښې د حضورﷺ سره د خپل عقيدت اظهار داسې کوي:

خدائے ته اوګوره زمـا پاکه رسولهﷺ
ډېـر وېرېږم د صـراط لـه ګرانـه پُولـه

کـه هـر څـو يـم بـد کرداره نامقبولـه
بې بسـې تـه زمـا مـۀ ګـوره مقبولـه
لاس د رب دپـاره راکـړه محمـدﷺ [۲۰]

علي خان د حضورﷺ سره د خپل عقيدت اظهار داسې کوي:

اے پـه حـق د حـق رهبـره
لاس د رب دپـــاره راکـــړه

هم تر کل مخلوقات غـوره
لاس د رب دپـــاره راکـــړه

اے نبي ﷺ پاکه مرسله
په مرسلو کښې افضله

هم اخر یې هم اوله
لاس د رب دپاره راکړه

کمترین دې د امت یم
علي خان کم بضاعت یم

امیدوار د شفاعت یم
لاس د رب دپاره راکړه[21]

د دواړو شاعرانو په کلام کښې اخلاقي اقدار هم شته او لفظي او معنوي مشابهت هم لري. دوئ مونږ ته د خراب صحبت نه د ډډه کولو تلقین کوي.

بېدل:

د بد اصل په خبرو یې خوئي بد شه
که هر څو به خوئي خصلت کښې وو نجیب[22]

علي خان:

د رقیب په نغوته ښۀ خوئي د یار بد شه
عاقبت په کړه پښه شي سم پېزار کج[23]

دواړه شاعران د وخت نه ګیله مند دي چې د اخلاصي خلقو ژوند تنګ دے او لباسي خلق چې دي هغوي مزې او چرچې کوي.

بېدل:

چې سکښتون که پېوستون، ګنډون د هجر
ډېر عزیز دے په دا وخت هغه خیاط[۲۴]

علي خان:

چې ګنډون د لباس کاندي اخلاص سکښي
پائي ښۀ نن زمانه هغه خیاط دے[۲۵]

د جرګو نه هم د حقیقت بیانی طمع عبث ده ځکه چې د جرګې غړي هم خرڅېږي.

بېدل:

د پرهېز خانان مې واړه تار په تار شوۀ
جرګه بې بدو ربښتیا نۀ وائي هډو[۲۶]

علي خان:

جرګه هډو ربښتیا نۀ وائي بې بدو
هسې وران د اولسي خلقو روزګار شۀ[۲۷]

دواړه شاعران د نااهلو او ناکسو خلقو سره کښېناستل پاڅېدل معیوب او ضرر رسان ګڼي.

بېدل:

چې کاوۀ مې له نااهلو ارتباط
ورانه وۀ به یې زما د زړۀ رباط[۲۸]

علي خان:

چې کاوۀ مې له نا اهلو اختلاط
ورکاوۀ به يې زما د زړۀ نشاط[۲۹]

هر څوک د تېر عمر ارمان کوي او د هر سپين ږيري په زړۀ کښې د ځوانۍ يادونه غزونې کوي. بېدل او علي خان هم د شعر په ژبه د تېر ژوند ارمان کړے دے. وائي:

بېدل:

وخت د مازيګر دے زېړے نمر ګوره پرېوځي
تېر شۀ عمر تېر شۀ د ماښام وخت دے کېوؤزي[۳۰]

علي خان:

اوس که خان وهم که خاورې په سر نولم
په هېڅ رنګ په بېرته نۀ راځي وار تېر شۀ[۳۱]

په مجازي عشق کښې دواړه شاعران د وفا د نۀ موندلو ګيله داسې کوي:

بېدل:

چې وفا مې د مجاز له ښکليو غوښته
دا متاع په دا بازار کښې نۀ وه نۀ شۀ[۳۲]

علي خان:

چې وفا مې د مجاز له ښکليو غوښته
دا غنچه په دغه ټل کښې نۀ وه نۀ شوه[۳۳]

دواړه شاعران د خيبر ذکر ډېر په فخر کوي:

بېدل:

چې کوځـه د يـار مـې ونيـوه پـوهېږم
غل، چوغل مغل به نۀ شي په خېبر تېر[۳۴]

چې په غېږ د پښتنې مور کښې پېدا شوم
اوس بـه نـۀ کـا پـه خېبـر مغـل غـرض[۳۵]

علي خان:

د کـوڅې ګـوټ بـه دي پـرې نـۀ ږدم رقيـب تـه
افريـدے شـوم وَ مغـل تـه خېبـر نيسـم[۳۶]

دواړو شاعرانو د زلفو مضمون ډېر په ښکلي او دلکش انداز کښې بيـان کـړے دے.

بېدل:

چې خورې ولفې له نازه کا خور وور شي
پـه ګوګـل دننـه زړۀ کـا خـور لـه مـا[۳۷]

علي خان:

چې خـورې زلفـې رايـادې کـړم د ترکـو
جمع زړۀ هغـه ساعت شي خور لـه مـا[۳۸]

بېدل:

پېچ و خم زلفو مې سم فکر پېچ پېچ کـه
نۀ يم ګرم کـه رانـه اورې پيچيـده ګفت[۳۹]

علي خان:

زړۀ مې بند کړو مسلسل زلفو پر پېچو
نۀ يم ګرم که رانه اوځي پيچيده ګفت [۴۰]

د خط مضمون هم دواړو شاعرانو ډېر په ښکلي رنګ بيان کړے دے.

بېدل:

دا يې خط دے په سپين مخ باندي حېران يم
که حبش دي ځي کعبې له د هندي بيا [۴۱]

علي خان:

ستا په مخ ور اوختو خط چارچاپېره
کعبه لاندې کړه مزيونو حبشو [۴۲]

بېدل:

دا په مخ يې د خط ليکه دو تا راغله
که کعبې لره مشکينه قبا راغله [۴۳]

علي خان:

په سپين مخ يې د خط ليکه دوتا راغله
که قمر باندې هاله خوشنما راغله [۴۴]

د مختلقو ژبو شاعرانو د خط مضمون په بېل بېل انداز کښې ليکلے دے خو د علي خان د دغه شعر جواب نشته:

خط یې وا رد زلفو تېر کړو علي خانه
کلـه مـار لـه مېږتـون سـره چلېـږي[۴۵]

دواړو هَم فکره شاعرانو رقیب ته هم ګوته نیولې ده او هغهٔ ته یې قسم قسم سزاګانې هم مقرر کړې دي.

بېدل:

کــه مــې لاس پــه رقیبــانو بانــدې بــر شــۀ
بـې لـه مرګـه یـې هـېڅ نـۀ کېـږي تـزار هـېڅ[۴۶]

خانـه یـې سـپے رقیـب راپوتګیـو پـرې هوسـېږي
سـتا لــه مخــه وېرم واړه خبــرې لــه نـامرد[۴۷]

کاشکے که دے نر وے یا یې کړې د نر خویونه
ستا په زرو یې زۀ کړم جانه سپک له خاکِ ګرد[۴۸]

مــاتوي د مــخ نظــر پــه رقیــب بانــدې
چــې تــورمخي ګرځــوي پــه سـترګو بــاز[۴۹]

چــې مــې بخـره غـم الـم هجـر نصیب شـۀ
بــې نـوا کـړم بـاز پـه نـاز بـاز د رقیـب شـۀ[۵۰]

رقیبــان د جــان پــه زور راځخــه خــلاص شــوه
خلقــه مــا کلــه پرېښــودۀ چــې وا تــۀ تلــۀ[۵۱]

چې بېدل پرېږدي دلبر يې په تلوار ځي
دا همه د رقيبانو په ګفتار ځي [۵۲]

راځئ چې اوس علي خان اوګورو چې د رقيب نه څومره ګيله مند دے:

رقيب ډېر ازاروه که يې ازار کړۀ
عاشق نۀ دے ګرم که ګرم دے ګرم په ګرم دے [۵۳]

د رقيب تراخۀ وئېل تر حده تېر شو
ستا په مخ يې تېروم ولې تر کومه؟ [۵۴]

څو به رقيبان ورپورې ټوقې مسخرې کا
څو به عاشق ژاړي لکه کونډه ارتينه [۵۵]

زړۀ به ښۀ د رقيب نه شي که يې خدائے کا
علي خان د يار د غم سره خمسور دے [۵۶]

ما د يار له مخه د رقيب ستم قبول کړو
څوک چې ګل چيدن کا په لاسونو يې خار بلوسي [۵۷]

دا خو وو د دواړو هَم فکره شاعرانو مشترک مضمونونه چې د هغوي د کلام انتخاب وو. راځئ چې اوس د دواړو نازک خياله شاعرانو د کلام نه يو څو ښائسته شعرونو انتخاب اوکړو چې د دوي د فنکارانه عظمت کمال ترې نه څرګند شي. بېدل وائي:

پـه هـر ځـائے کښـې لاړ ولاړ سـمېدلے نـهٔ شـم
جــدائي مـــې کـــور د صـــبر کـــه تـــاراج[58]

آئينـــې لـــه د مـــخ ولـــې هېـــره نـــهٔ اخلـــې
چـــې دې وســومه پــه مينــه لانــدې بانــدې[59]

چـې يـې بيـائي دسـت بسـته کوتـوال د مينـې
بېــدل کــړې ســتا لــه حُســنه جــواري ده[60]

چـــې زوري مـــې تـــل پـــه زور د زرزو ســـترګو
دا يـــــې واړه دي زمـــــا شـــــړل غـــــرض[61]

چــې هــر هــر ســحر ســلام پــه مــا رنځــورلي
زيـــــاتوي ګـــــوره د عمـــــــر درازي[62]

پــه هــر لــور مــې پــه زور بيــائي نــاعلاج يــم
چـې پـه غـاړه مـې شـو سـتا د زلفـو پـړے[63]

اوس د علي خان يو څو ښکلي شعرونه په دې ډول دي:

نمـــر، ســـپوږمۍ، آســـمان بـــه تـــل درنـــه زاريــږي
کـــه زمـــين غونـــدې قبـــول د خلقـــو بـــار کـــړې[64]

دا تراخهٔ وئېـل د ښـکليو پـه تلخۍ کښـې هسـې خونـد کـا
لکـه مـرچ چـې مـزه دار دي پـه دا نـوره مسـاله کښـې[65]

یـــوه ورځ بـــه دې غـــږ اوشـــي علـــي خانـــه
چـــې فلانـــے هـــم لکـــه ګـــرد و غبـــار تېـــر شـــۀ[۲۶]

غـــم د تبســـم پـــه جامـــه نغـــاړم لـــه وګـــړي
تـــل لکـــه ګـــلاب پـــه پرېشـــانۍ کښـــې پـــه خنـــدا یـــم[۲۷]

قبـــر د شـــهید خـــو بـــې ډیـــوې نـــۀ وي دلبـــره
ولـــې دې مـــخ ونغښـــت د چشـــمانو لـــه وژلیـــو[۲۸]

اګرچې که د دواړو شاعرانو په کلام کښې ډېر زيات مشترک مضامين شته بلکې په ځنې شعرونو کښې يې الفاظ هم يو شان استعمال کړيدي. خو دا فی الحال ګرانه ده چې کوم يو شاعر د بل شاعر رېزه چېن دے. دا فېصله هله کېدے شي چې په کوټليو تاريخي شواهدو دا خبره رڼا ته شي چې د عمر په لحاظ په دوي کښې کوم يو مشر دے. بيا هم په ظاهره داسې ښکاري چې بېدل د علي خان نه استفاده کړې ده. لکه ځنګه چې هغۀ د خوشحال، رحمان بابا او حميد بابا په حقله غزلونه وئيلي دي.

# حوالې

[۱] بېدل، دیوان، مرتبه همېش خلیل، مطبوعه شاهین برقي پرېس پېښور کال ۱۹۵۷ء مخ ۲۱۳

[۲] علي خان، دیوان، مرتبه سید تقویم الحق کاکاخېل، خوروونکے ادارۀ اشاعت سرحد پېښور ۱۹۲۴ء، مخ ۲۷

[۳] هم دغه اثر، مخ ۱۰۳

[۴] دېوان بېدل، مخ ۱۰

[۵] هم دغه اثر، مخ ۱۳

[۶] دېوان علي خان، مخ ۱۲۳

[۷] هم دغه اثر، مخ ۱۲۵

[۸] خټک، پروفېسر ډاکټر اېم اقبال نسیم، د رنګ او بو قافله، خوروونکے اداره علم و ادب صوبه سرحد پېښور، کال ۱۹۹۱ء، مخ ۱۲۳

[۹] هم دغه اثر، مخ ۲۲

[۱۰] محمودي صاحبزاده، دیوان، مرتبه قلندر مومند، خوروونکے اداره اشاعت سرحد پېښور، کال ۱۹۸۵ء دوېم ځل، مخ ۹

[۱۱] عطاء الله خان، قاضي، د پښتنو تاریخ (جلد اول)، خوروونکے اداره اشاعت سرحد پېښور کال ۱۹۲۲ء، دوېم ځل، مخ ۲۴۸

[۱۲] Cairo, Olf, The Pathans, published by Macmillan, co. ltd. ۱۹۲۴. p. ۲۲۳

[۱۳] د پښتنو تاریخ، مخ ۲۲۳

[۱۴] دیوان علي خان، مخ ۵۹

[۱۵] کاکاخېل، سید بهادر شاه ظفر، پښتانهٔ د تاریخ په رڼا کښې، خوروونکے یونیورسټي بک ایجنسي پېښور، کال ۱۹۲۵ء، مخ ۹۴۲

[۱۶] دیوان بېدل، مخ ۲۲۴

[۱۷] هم دغه اثر، مخ ۲۲۵

[۱۸] هم دغه اثر، مخ ۲۱

[۱۹] دیوان علي خان، مخ ۱

[۲۰] دیوان بېدل، مخ ۲۴۹

[۲۱] دیوان علي خان، مخ ۱۴۱، ۱۴۴

[۲۲] دیوان بېدل، مخ ۲۲

[۲۳] دیوان علي خان، مخ ۲۴

[۲۴] دیوان بېدل، مخ ۱۲۴

[۲۵] دیوان علي خان، مخ ۷۰

[۲۶] دیوان بېدل، مخ ۱۸۲

[۲۷] دیوان علي خان، مخ ۲۵

[۲۸] دیوان بېدل، مخ ۱۲۳

[۲۹] دیوان علي خان، مخ ۷۰

[۳۰] دیوان بېدل، مخ ۱۹۷

[۳۱] دیوان علي خان، مخ ۲۳

[۳۲] دیوان بېدل، مخ ۱۴۱

[۳۳] دیوان علي خان، مخ ۱۱۰

[۳۴] دیوان بېدل، مخ ۹۹

[۳۵] هم دغه اثر، مخ ۱۵۲

[۳۶] دیوان علي خان، مخ ۹۲

[۳۷] دیوان بېدل، مخ ۱۸

[۳۸] دیوان علي خان، مخ ۴

[۳۹] دیوان بېدل، مخ ۴۲

[۴۰] دیوان علي خان، مخ ۱۱

[۴۱] دیوان بېدل، مخ ۱۱

[۴۲] دیوان علي خان، مخ ۱۰۹

[۴۳] دیوان بېدل، مخ ۱۸۸

[۴۴] دیوان علي خان، مخ ۱۱۱

[۴۵] هم دغه اثر، مخ ۱۳۴

[۴۶] دیوان بېدل، مخ ۶۹

[۴۷] هم دغه اثر، مخ ۷۲

[۴۸] هم دغه اثر، هم دغه مخ

[۴۹] هم دغه اثر، مخ ۱۲۰

[۵۰] هم دغه اثر، مخ ۱۴۲

[۵۱] هم دغه اثر، مخ ۱۸۷

[۵۲] هم دغه اثر، مخ ۲۰۲

[۵۳] دیوان علي خان، مخ ۲۴

[۵۴] هم دغه اثر، مخ ۸۹

[۵۵] هم دغه اثر، مخ ۱۱۲

[۵۶] هم دغه اثر، مخ ۱۲۸

[۵۷] هم دغه اثر، مخ ۱۳۵

[۵۸] دیوان بېدل، مخ ۵۹

[۵۹] هم دغه اثر، مخ ۷۴

[۶۰] هم دغه اثر، مخ ۷۸

[۶۱] هم دغه اثر، مخ ۱۵۲

[۶۲] هم دغه اثر، مخ ۲۰۰

[۶۳] هم دغه اثر، مخ ۲۱۲

[۶۴] دیوان علي خان، مخ ۴۵

[۶۵] هم دغه اثر، مخ ۵۲

[۶۶] هم دغه اثر، مخ ۲۴

[۶۷] هم دغه اثر، مخ ۸۹

[۶۸] هم دغه اثر، مخ ۱۰۴